مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد معصوم هوتک

۲۰۲۰/۱۲/۰۲

# ارمان

ارمان مي دا دئ، چي پڼ مي کور وای
د بچو شخول وای، د لمسو شور وای

خندا خوښي وای، د غم نېستي وای
د حُب نغری وای دمیني اور وای

لمسي سپاره وای پر اوږو باندي
ابا تر جار وای، که ئې ژوند نور وای

نه پردېسي وای، نه بېکسي وای
څنګ ته مي زوم وای، بل څنګ ته مېرور وای

تبر راتول وای په غم ښادي کي
اکا، ماما وای، ترله وای ترور وای

که رنځ که درد وای که بله ستونزه
وارخطا نه وای که اور که سکور وای

کهول مي پڼ وای پر خپله مبنه
و شکرانې ته مي سر سرتور وای

تقسیم د رب دئ، باندي قانع یم
خو نفس سرکښ دئ، کشکي پر زور وای

د پردېس رنځ مي علاج څرګند دئ
بس یو مونس وای، بس یو غمخور وای

که په ملت کي، لږ تفاهم وای
نه به تور سپین وای، نه به سپین تور وای

که ئې پوره وای، دا ارمانونه
که ئې جامونه، د غم نسکور وای

شاعر به څله سر پر زنګون وای
په بینا سترګو، به ولي کور وای؟

آشاوا, کانادا
30نومبر2020ع



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ